(پـایـبـنـه)

پـوهـانـد دوکـتـورم.ا. زیـار
اکسفـورډ، ۹-۹-۲۰۱۲

یـوه-کـره لـیـکـنـیپـښـتـو:

# بېواکوړي(ابتدا پرساکن...) یا کلسټرونه(clusters)

(و)ړوند،(و)ړومبی، (و)روستی،(ا)ستکهولم،(ا) ستېشن...

ژبې پرلپسې ادلون بدلون مومي، او وارله مخه په ګړنی بڼه کې، هغه هم له غرېز ، مانیز او پښوییز (ګرامري) پلوه. داسې چې غرېز دایي په لوړه، مانیز په منځنی او پښوییز دا یې په درېیمه کچه کې را ځي. په لیکنی بڼه کې هربدلون ټروني بڼه لري اوزیاتره پر وییپانګه او سبک و سټایل راځرخي. ځکه نوي نوي رامنځته کېدونکي پوهنیز او فرهنګي جاجونه او نومونپوهني(ټرمینالوجي) پرلپسې راځپلوي. دا چې ولې غرېز،مانیز او پښوییز ادلون بدلون لیکنی او بیا کره لیکنی ژبې ته ډېر روسته را ننوځي، یوه سراسري ژب- ټولنپوهیزه(سوسیو- لنګوېستیکي) او بیا ژب- فرهنګي ربړه ده په دې مانا چې لیکنی بڼه د ګړنی په توپیرد ګورتنیو او کنټرول وړ ده او لیکوال یې سهنې او زغمنې ته وار له واره نه چمتوکېږي، یا ورته وګړنی او نادبي برېښي، او په دې توګه یې پر وړا ندې تر ډېره ټینګار کوي.

د ګړنی بڼې دغه ټول اوښتونونه تل تر تله همداسې هوایي نه پاتې کېږي. همداچې د ګړېدونکیو ډېری راونغا ړي او لړوډېره یې لیکنی بڼه هم کاروي، ژبپوهان یې دځانګپوهیزې پاژې له مخې را خپلوي او کره لیکنی بڼې ته یې را لېږدوي. هرګوره، د دود له مخې(کره) لیکنی ژبه له (و) ګړنی ژبې سره یو لړه کی واټن او توپیر ځانته خوندي ساتي. د بېلګې په توګه لیکنی پارسی په وسمهال کې د هر آرکړ(اصلي فعل) ترځنګ د مرستیالکړ(خواستن) اوړون (ګر دان) له پېړیو پېړیو خوندي ساتلی دی، لکه: خواهم رفت- خواهیم رفت، خوا هی رفت- خواهید رفت، خواهد رفت- خواهند رفت... اکر (حال) داچې له ایرانه نیولې د افغانستان، تاجیکستان او وز بکیستان (سمر کند و بخارا) تر ګړدودو پورې دغه اوړون له مرستیال کړه، آرکړته رالېږدېدلی او(خاد رفتم- خاد رفتیم...) وایي؛ میخایه، مېشه، مېګه، میره، میه، مچم(من چی میدانم)... ګوشنه، ننه، ننو ،سنو، لاله(لالا)، پشقل پشک، پشکل) ، پیشک، پُت، خبت، چتل... . ورته په هر ډول کره او ادبي او یاهم نړه نه برېښي.

په هره توګه موږ هم د پښتو په تړاو که یوخوا د ځانګپوهیزې پاژوالی(مسؤولیت) له مخې اړوځو، له ورته یاد شویو آړونو (شرایطو) سره سم د ګړنی پښتو بدلونه پر ځپل ځپل وخت په پام کې نیسو، نو بلخوا یو لړ زاړه توکي یا ارکاییزمونه چې له اړوندو آرونو سره ټکر نه پېښوي، په کره لیکنی پښتو کې هم خوندي وساتو.

همداراز دغلته د غبرپوهیزې پښوییزې((یورنګی)) د اړوندې چلندلارې له اووګونو آرونو څخه یو آر ((لرغونوالی))  په دې آړ(شرط) رانغښتی چې ګرد لرغوني توکي او پښوییز دویونه(قاعدې) د یوه غور چاڼ((انتخاب او اطراد)) پر بنسټ، یومخیز نه، بلکې برخیز په کره لیکلارکي منل کېدای شي.
( لیکلاربښود۱۸-۲۲).

د غبرېزو بدلنونو له ډلې څخه د بېواکوړو((کلسترونو)) له منځه وړنه او اسانونه ده. کلسټر د ژبپوهنې د ترمینالوجۍ له مخې  په یوه ویي کې د دوو، درو، څلورو، پېنځو بېواکو( کانسوننټو) پرلپسېوالي ته وا یي چې هېڅ کومکي غږ(خپلواک یا واوېل) ورسره مل نه وي، هرګوره، نیمواک(سیمي واوېل) ور سره هم د بېواک(کانسوننټ) په چار(نقش) کې راتلای شي( لکه په پښتو ورور، ندرور، خوند، ژوند، ویاړ، وران، ورین، وُریځ... کې). له همدې کبله یې موږ ((بېواکوړی)) بولو او درې ډوله دی:
(پیل- یا)سر بېواکوړی، منځبېواکوړی او پایبېواکوړی. د پښتو اوږدترین هغه درې غبرېز سر بېوا کوړي دي چې په پق( پښتو قاموس) او ګړدودو کې یې یو ګڼ شمېر بېلګې نومېرل شوې، ډېری په دوه ګونو شپېلکي(صفیري) بېواکو(س، ش)پیلېږي، دویم یې ژبۍ- تالوییز(خ، غ) یا نرمتالوییز(ک) او دریېیم هغه یې بشپړ ډېری نیمواک/و/ راځي، لکه(ش خ و) او (س خ و) په دې روسته وییونو کې: شخوَل(آشوب)، شخول(خپګان له زورکي سره،شخوند یا سخوند، سخوندر، سخواړ(پیټ پزی)، سخوښتی(وښکی )، سکوښتل (سکو ستل، سکولل)،سخرټ(لرګین غونډاری)؛ ستهان(ستان له هندي سایېزوالی سره)؛ له نرمتالوییزو تمبېواکو (ک،ګ) سره راپیلېدونکي او بیا په نیمواک(و) پسې هم  د راغلو رېنده او ړېنده اووریزو (ر، ړ) بېلګې یې،لکه: کورت، کوړکه،کوړنج(کوړنجېدل) یا کوړنچ (کوړنچېدل-ول) او یاکوړنګ(کوړنګېدل-ول)(د سپي زونګ او زونګېدل-ول له وهلو سره)،ګورت، کورټ، کړم یاګوړم او ګورنډه (ګودال)، او له ژبۍ-تالوییز(خ، غ) سره راپیلېدونکي او په (و) پسې د ورته راغلو اووریزو بېلګې یې، لکه: خوړچ(نسترن)، خوړین، خوړسکه یا غوړسکه، غوړچ، غوړپ (غړپ)، غوړپل (غړپل)، غوړشکه،(د غړم یو ځېل) غوړم(د توپ اواز)، غوړنجه(لمبه)،د ننګرهار (غولول) هم په دې ډله کې راځي او داسې نور.
ښایي په هندواروپایي ژبکورنۍ کې سلاوي ژبې تر څلورو اوان پېنځو بېواکو پورې ولري، لکه په رو سي( فسترچر !) کې.

 داراز ادلون بدلون په نورو ژبو کې هم شته، په تېره د سربېواکغونډ (initial cluster)، لکه انګر یزي special=especial ځکه دا ډول ترمنځ- او پای-هغه هرچاته ګران دی؛ estate یې هم ورته بدلون برېښي،هغه هم له مورفو- فونولوجیکي بدلون سره، چې بله مانا (جایداد، شتمني) یې راخپله کړې ده، دstate  فرانسي انډول هم estat دی. که په پښتو کې هم د غبرېزو بدلنونو په لړکې کلسټر ي دا هم ورته مانا ونج را منځته کړي، نو د اړوندو معیاري آرونو په رڼا کې یې کره لیکنۍ پښتو ته را ګډول هرو مرو اړینېږي.

په نوي آرياني پېرکې د پارسي په ګډون ګردو سوېل لويديزو((پرسيک)) ژبو لومړي دوه ډوله کلسټر ونه له منځه وړي دي. خو پښتو له زيات غږيز بدلون سره سره دربواړه، هغه هم زياتره سوېل لويد يزې ګړدو دي ډلې خوندي ساتلي دي. په کابلي ګړدود کې يې د سر بېواکوړي څرک بيا پر راڅوکېدو بريښي، لکه واخلې په(جوان)، جوال... کې.

پښتو بېواکوړي، لکه الماني، انګرېزي او نورې جرماني ژبې، يا روسي او نورې سلاوي هغه، زياتره په مښليو، بيا په تېره شپېلکي (صفيري) اوازونو(س، ش) هغه هم ډېرى د تمبېواک (انسدادي /-پ-/ او/-ت-/ په ملتيا) پيلېږي، لکه: سپی، سپين، سپېڅ، سپېڅلی، سپېره، سپېرګل، سپېرګه، سپېسته، سپېښته، سپېغول،سپېلنی، سپور، سپرلي، سپارل، سپلم يا سپېرلم (روباه)، سپلمی، سپم، سپما، سپک، سپوږمی، سپوغزه، سپڼ، سپڼسی، سپاره، سپرغه، سپرغی، سپرخی، سپخښدل، سپږمې، سپور، سپومی يا سپوږی، سپېرکونډه، سپېرکونډکه، سپېرکی، سپېر کی، سپېډې، ستړی، ستومان، ستم(ستمی،)، ستو، ستومی، ستونی، ستوری، ستن، ستون، ستغ، ستر، سترګه، سترغلی، ستا، ستاسې، ستاوندې، ستايل، ستانه، سخر، سخړه، سمڅ، سره، سری، سراښ، سرپ، سيل، سکور، سکم،، سکڼ، سکڼل، سکو، سکوی سکوښتل (سکولل)، سکينده، ، سکونډل، سمت، سنی...؛ شپه، شپېلی، شپېلول، شپول، شپون شپېته، شپږ، شپاړس، شپېشته، شته، شمبر، شخول، شخوند، شرنګ، شړک، شړو مبې، شنالغه، شناوی، شواړ، شواړه...

نيمواک(سيمي واوېل) د يو لړ پيل- خو زياتره د منځوالو ( مېډل) کلسټرونو په رغاونه کې برخه اخلي، له و(w) سره، لکه په: ژوند، ژواک، ځواک، ځوان، غوږ، ګوته، ګل، منګل(منګول)،ګوَر(حريف)، ګوټ(ګوشه)،کوَر، غوز، غوړ، لوږه، لوړ، لواز، لوړه، کورت، لوست، لوستل، شخول، شخوند، خوند، خو لخونده، خوړ، خوړه، خوړل، خوراک، خوری، خوريی، خوړين، خوښ، خواښې، ګواښ، ګورنډه، کوَنډ، کونډ، کونډه، کوړکه، کونګ...کې؛ سوی،ښوی، خوی(شپشک درخت)، خول، خولی، خوله (دهن)، خوله (عرق)، خوا، خوار، خواله، خوږ (ژوبل)؛ همداراز د عربي(دُبر، فرج) پښتو انډولونو...کې؛
له ی(y)سره ، لکه په: بيا، بيرته، ژ يړ، سيال، توريال، وياړ، ويار، ويال، ليا، ليار، ماليار، زيار، بېديا، پکتيا، متيازې، ميا، مياشت، ميانده، ميندې، خويندې،نږيندې، تريندې، ننديندې... کې.

په دربيمه کچه کې له ناغږن تمبېواک ( پ-) سره پيلېدونکي بېواکوړي راځي، لکه: پروت، پرته، پسول، پروړه، پرېړ،پرين، پرېښوول، پرېوتل، يرېولل، پرېمينځل، پرېوان، پړيخ، پرېېستل، پړانګ، پړوبی، پړوستی، پړوکی، پړومبې، پړه، پړانه، پسه، پسور، پسرلی، پسې، پلن، پښه، پښی، پښبمان، پلار، پلورل، پلندی، پلنډه، پلوړه، پله، پليش،پياڅه، پياخله، پيارژرندی، پيارغنده، پياړمه، پياز، پياسه، پياغله، پيلګې، پيالنه، پيانده، پياورکی، پياوړی، پياوی... .

په دودیزه عربي- پارسي ترمینالوجي کې یوازې د یوراز(پیلبېواکوړی) لپاره((ابتدا پرساکن)) نومونه (اصطلاح) شته ، نه د منځبېواک او پایبېواک لپاره. سره له دې چې دواړې ژبې پیل-(ابتدا پرساکن) او منځ- هغه نه، بلکې روستی دا لري، په پارسي وییونو کې،لکه په چشم،خشم، لشم، پشم، ببر، مهر، شرم، جشن، رزم، بزم... په عربي هغوکې، لکه: شعر، نظم، وزن، نثر، نشر، صدر، قصر، قطع، عشق، حسن، عقل، نقل، فکر، فعل، نحو، سهو، فسخ، صلح، طمع ، جمع، شمع، منع، دفع، شرع، وسع، وضع، شرح، وهم، عجز، رسم، جسم، قسم، عزم، جزم، مصر، حرص، هضم، صبر، بحر، علم، حلم، امر، حکم، قدر،نذر، بذر،زرع، ...کې چې پښتانه یې په ګړنی پښتو کې ډېری دو څپیزوي او په لیکنۍ کې یې تر ډېره په آر لیکدود کاري. خو وینګ یې بیاهم له دیني متنو پرته له پښتو غږپوهنې سره برابروي او دوڅپیزوي یې.

پښتو په خپلو نرو وییونوکې درېواړه کلسترونه لري، خو لکه چې وویل شول د عربي او پارسي روستي دا زیاتره ، په تېره درې کانسوننټي هغه نه شي ویلای او دوڅپیزوي یې.
خو په ټولیز ډول د دغو دوو او ځینې نورو ژبو ډېر وییونه د نیمواکو(y ،w) په مټ په کلسټرولو سره یوه یوه رالنډوي: دوڅپیز ور یوڅپیزوی، لکه خدا-خدای، خلاص، نیت، سوال، ځواب یا په یوه جوړه ترنګ(سوال و ځواب)کې ؛ درې څپیز وردوڅپیزوي، لکه بامیان، بیابان، اختیار، امتحان-ابمتیان، څلورهغه ور درې څپیزوي، لکه لیبیا، اُمتیان؛ په پارسۍ کې انګرېزي پېنځڅپیز پور وییونه ور څلورڅپیزوي او ان درې څپیزوي، لکه اروپاییان( اروپایان)، هغه برېټانیان(برتانیان) او شپږڅپیز یې هم څلورڅپیزوي،لکه امریکاییان(امریکایان).
د شمال ختیځ پښتانه، په تېره مومند ځینې خپل او پردي دوه څپیز وییونه یوڅپیزوي، په بله وینا، کلسټروي. همداسې د نورو ژبو ورته وییونه چې نیمواک (-ی- y -) یې په منځ کې راغلې وي، غبر ګغږ (دیفتونګ) د وییونو په منځ او پای کې مونوفتونګوي ، لکه: سخې(خوسی)، سخا(خوسا)، خوریی، غویی... ، لا ان وګړنوم (قیوم) پر ورته یو څپیز کلسټر بدلوي.

په یونیم ګړدود کې د داسې ځانتنی کمپېښی(منفرد به فرد) سربېواکوړی بېلګې څرک لګېدای شي چې د نورو ټولو پښتنو لپاره یې وینګ خورا ګران پرېوځي، لکه د میانوالۍ پولې ته د خټک زوني څېرمه شکردره کې د یوه غاښي نوم ((دژوکی džúkay)) دی چې ځایي خټک یې د خپل توریالي او جنګیالي نیکه له سنګرونو څخه ګڼي او د(( دژ)) د کوشیننوم په توګه یې لومړي دوه بېواکه سره کلسټر شوي دي؛ ګومان نه کېږي چې ان په ګردو خټکو کې یې دویمه بېلګه وموندل شي، ځکه غاښیزتمبېواک/د/ او زیږتالوییز مښلې/ژ/ سره پټلیزول د چا خبره ژبه کیلي کوي.

هغه نږه پښتو بېواکوړي چې زیاتره ویونکي یې ویلې کوي او لږو ډېر یې په کره لیکنۍ پښتو کې منل کېدای شي، داسې را اوډو:
۱) **په غورځن(حذف) سره**، د سر(و-) په غورځن را ساده شوي وییونه زیاتره کره رادود شوي دي، لکه: (و) ړومبی، (و)ړوند، ،(و)روس، په دې لړکې کېدای شي،

د(وروسته، وروستی، اوستری) پر وړاندې شمالختيز ( روسته، روستی) هم همداسې کره ومنل شي، خو(لاړ، رو، رور) د(ولاړ، ورو، ورور) پر وړاندې نه؛ د(پ) په غورځن سره(خور، سور، سور) د(خپور، پسور، سپور) پر وړاندې هم همداسې درواخله.
( کي) بيا د زړې(کښې) او(چې) د زړې يا لږ تر لږه ليکدودي(چه) پر وړاندې د ويونکيود بشپړ ډېر والي او ورسره ورسره د ليکوالو د۱۳۵۵ کال د پرېکړې او هوکړې له مخې معياري ربنته ترلاسه کړې ده.

**۲)(-ya-)  پر(-e-) بدلول، لکه: بيارته/بيرته پر بېرته، ژړ/ ژير پر زېړ؛ شمال ختيځ خواته (بېل) بيا پر بيل(byal)، وېره پر ويره، چېرته پر چيرته او بيا چرته اړوي، بل ناکره ځېل يې چړې دی او تر ګردو کره (چېرې) منل شوی او کندهاريان يې له خپلې خجپوهيزې ځانګړتيا سره سم دواړې اوږدې (ې) ګانې پر لنډو (ي) ګانو بدلوي، خو( وُريځ) بيا پر(ورېځ)، (درواغ) پر(دروغ)، (پېړ) پر(پرېړ) او(وېښته) پر (ورېښته) کلستېروي (آرپوهيز سيندګی ۱۸۰)**

۳) د غږيزادلون بدلون له بېلګو څخه اوړنونه يا قلبونه (metatheses) چې که څه هم د لويديزې ګړدودي ډلي په پرتله په نورو دروهغوکي زيات ليدل کېږي، نو که له بل آرسره يې د ټکر وېره هم نه وي، له يوې مخې ورته کره ليکنی پښتو ته لار نه ورکوو او هماغه آرې تاريخي بڼې يې ساتو، لکه: اسوېلی(اوسېلی)، کښل، کښته ...(ښکل، ښکته...).
پر وړاندې يې بيا د(روځ- ورځ)،(ږغ- غږ)،(اروېدل- اورېدل)، (بغرګ- غبرګ)، پرولل- پلورل)... دويمې بڼې ، د دوه-درو معياري آرونو له کبله کره امرل شوي دی، لکه د ويونکيود ډېروالي، تولېز اسانوالی او دودوالي له مخې.
په ( ځمکه- مزکه) کې هم ښايي، دويمه اوړېدلي دايې ډېر ويونکي ولري، خو د نويو رغوليو او رغېدونکيو بېلنګونواو تړنګونو (مشتقاتواو مرکباتو) له پلوه له کره ليکنۍ پښتو سره ښه ترا اړخ لګوي، لکه په(ځمکنی، ځمکوال، ځمکسمون، ځمکوېش، ځمکزی، ځمکلاندې، ځمکغونډا ری، ځمکواک، ځمکواکي، ځمک-هوا توغندی...) کې.

۴) د يوه خپلواک(زورکي) په ډېرن(اډېشن) سره ، لکه: (پسرلی، زمری، پسه، پسې) د ننګرهار خواته دوڅپيز، درې څپيزوي ، او يو څپيز دوڅپيزوي؛ پېښوريان (پسرلی) بيا پر (سپرلې) اړوي ځکه له (پس-) ورته(سپ-) بېواکوړی اسان پرېوځي، خو داچې ډېرګړی يې هرګوره له يوګړي (سپرلي) سره ټکر خوري، نو کره منل کېدای نه شي؛ همدارازيې(زمری) پر(امزری) او(مزری) اړول درواخله.
ځيني پښتانه ارت، اوږد، اړخ، بوخت، ږد-(ابږدم...) ( په زورکي) منځ-خپلواکونج(Ablaut) سره دوڅپيزوي او په دې ډول يې کلستېر ويلې کوي. ځينې بيا په سرچپه توګه يو نيم ويی، لکه برخه (bárxa) چې اوړېدلې بڼه يې(بخره) ده، په لوی لاس پر(bráxa)کلستراړوي. (ليکلار۵۳)

۵) منځوال بېواکغونډونه، هغه هم زیاتره له(- əw-) غبرګ سره د شمال ختیځ خواته یووستوي (- o-) یا (مونوفتینګ) کېږي، لکه: لوست، سوَب(حاضر)، غونج، غوټ، کوچ، کوچلانه، همدارازشمال ختیځ(wə) پر (-o-) بدلوي، لکه: لُوست، خُوړ، کُوچ، غُونج، کُونج(قونج)...، کوزه خوا(غور) ان له کلاسیک ادبي پېره ورته بدلون موندلی دی(← سیمي واول، **یو دوه مخه پاس**).

د لېږند یا متعدي توک(مونیم) په توګه (- əw-) چې ننګرار خواته(- aw-) هم دود لري، شینواري له کرستې سره پر بېواکوري اړوي او له پېښوره مخکښته تر سوات و بونېر او ان تر مارګلی بېخې پر اوړده- و(-o-) بدلوي، لکه په: کول، پخول، چول، اړول، نړول، زېږول، ځملول، نښلول، سمول، ستومانول، بندیانول... کې.

له سوبل لویدیځ پرته په نورو دروګونو ګړدودي ډلو کې د (-ي) او(-ۍ) پای نومونود اوښتیو ډېر ګړیو (مغیره جمعو) کلستري بڼې ساده والی مومي او ډېری لیکوال یې هم په همدې لیکدود کاږي چې موږ د ډېروالي او اسانوالي دآرونو له مخې یو سازښت ته رسېدلي یو او هغه داچې په ستاینوموالو، تولنوموا لو او شمېرنوموالو ترنګو(توصیفي، اضافي او عددي ترکیبونو) کې لومړی ټاکندوی یا موډیفایر ورسره همداسې له ساده اوښتی بڼې سره کره منلی او ورپسې ټاکلی،ستایلی او شمېرلی نوم نه، لکه: مېړوښو ښوونکیو، دکلیو درو مېړنو وګړیو ته ستاینلیکونه ورکړ شول،د کلیو نویو لویو لښتیو سړکونه ویجاړ کړل... دلته(کلیو) ځکه پر خپل اکر پاتېږي چې که پر(کلو) واړول شي، خبره مورفو- فونولوجیکي بد لون(ماناونج) ته رسي

وردګو ډېر بېواکوري، نه یوازې خوندي ساتلي، بلکې لرډېر نوي یې هم رغولي دي، لکه: سره، کره...(sra,kra...) د یوڅپیزولو له لارې. همداسې یې نومکړونهdenominatives ( ستړیول(ستړي کول)، خوشیول(خوشې کول) او داسې نور در واخله چې دا یې بیا د ګړدود د ترښتي(سېنتېتیکي) ځا نګړتیا یو نوې ښکارنده ده. سوبلختیز دوڅپیز(زما-زموږ) پر یوڅپیز کلستر اړولي چې له شعري اړتیا پرته کره منل کېدای نه شي. ځکه د پښتو د ټولیز غږونج پر بنسټ یې وار له مخه له آرې تاریخي بڼې (دما-د موږ) یې ساده دو څپیز شوې، په بله وینا، غږن/د/ پر غږن/ز/ اوښتی، خو پر وړاندې یې د (دتا-دتاسې) هغه له نا غږ نې/ت/ سره ناغږن/س/. اړخ لګولی او په دې توګه ړومبنۍ جوړه وار له مخه دوڅپیزه شوې او پر یو څپیز بېواکغونډ (کلستر) اوښتنه یې دویمنی ونج دی چې سوبل لویدیځوالو له(ستا-ستاسې) سره د پر تلې یا قیاس(analogy) له مخې رامنځته کړی دی.

یادښت

ځینې کم ازمېښته پښتانه ویاندان اروپایي کلستر پورویزونه(ابتدا پر ساکن مستعارویونه) د پارسي ژبیو په پېښو هسې ببځایه ویلې کوي، لکه: پِلان، پَروژه، استېشن... ان تردې چې خپل نږه دا هم، لکه دوڅپیز (مرستیال) پردرې څپیز(مَرستیال) او مرستون پر(مَرستون) اړوي. ورته پېښې یې په ځاینو مونو او وګړ نومونوکې هم لیدل کېږي، لکه: یو څپیز کلسترونه( ګرشک، سوات، سویس، سوېدن... ) د منځخپلواک په متې ویجا

ړوي، فرانس یا فرانسه، فرانسسکو، سلوواک او داسې نور سرکلسټري یا پای کلسټري وګړنومونه او ځاینومونه درواخله. همداسې په ورته بېځایه پېښنو دو ځپیز (سروبی) په منځ- خپلواک(a¸ə) ، په بله وینا، د سر بېواکو ږ.ي(سرو-) او د (پکتیا) د پای کلسټر(- تیا) په شننه درې ځپیزوي. (ستوکهولم) د(الف) په ډېرن پر(استو کهولم) اړوي. همداراز د پښتو وینګ پر خلاف دو ځپیزه کلسټري (سپانیا) ، یوخوا د (الف)په ډېرن (اسپانیا) درې ځپیزوي او بلخوا یې دپای کلسټر په ویجاړ تیا پر څلور ځپیزاړوي، (هسپانیا) لیکدود خو یې لا له ډېر دود انګرېزي هغه(Spain) څخه نور هم واټن زیاتوي؛ د لرو پښتنو یوځپیز هو بهو وینګ او لیکنګ((سپېن)) هم له پښتو څخه د راخپلونې (ادا پټېشنال) ځانګړتیایي رښته راخرخشنوي. دوی له دغه پلوه په ځانګړي ډول د اردو ړندو پېښنو لاره یومخیزه پرمخ اخېستې او د برنۍ کره پښتو په توپیر یې ان د اسلامي هېوادو او پلازمېنو دنومونو درا خپلونې یوه لړه کې هڅه هم نه ده کړې، لکه سعودي عربیه(عربستان)، اجېپټ( لر.وډېرمصر)،سوریه (لر.وډېرشام)، کیرو، لېبیه، ترېپو لي(طرابلس)، اندو نېشیه، ملېشیه ...(پای)